# خبرپاڼه

## افغاني ځوانان د ځوانانو نړیوال ورځ لمانځي او د ځوانانو په غونډه کې  د خپلو لومړیتوبونو په اړه خبرې اترې کوي

کابل، ۱۳ زمری ۱۳۸۷ – د ځوانانو نړیواله ورځ به په کابل کې د ۱۳۸۷ د زمري پر ۱۵مه ولمانځل شي. د ځوانانو د نړیوالې ورځې د لمانځنې په دغه غونډه کې به د هر ولایت په استازیتوب دوه ۱۸ - ۲۵ کلن د دولسم ټولګي فارغ (نیمایي به یې نجونې وي) ځوانان او د ځوانانو د ټولونو، ملګرو ملتونو ادارو، د پوهنې وزارت، د لوړو زدکړو وزارت او مدني ټولنو شا او خوا ۲۵۰ استازي برخه واخلي.

سږ کال په افغانستان کې د ځوانانو نړیوال ورځ د ۲۰۰۷م د ځوانانو د اعلامیې د پلي کولو د پیل په توګه لمانځل کېږي چې له مخې یې باید داسې کاري ډلي جوړې شي چې د ځوانانو د مسایلو په اړه د پوهاوي د کچې د لوړولو، د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې په پلي کولو  کې د ځوانانو د ونډې او د ځوانانو د رضاکارو ټولونو د جوړېدو لپاره د دولت او ځوانانو تر منځ د ګډ کار او همکاري د پیاوړتیا د لارو چارو په اړه خبرې اترې وکړي.

دغه کاري ډلي به په زدکړې، روغتیا، اعتیاد، کار، د ځوانانو د مبارزې او په محلي اداره او د مدني ټولنې په سازمانونو کې د ځوانانو مسایلو ته پام اړونه باندې غور کوي. د دې تر څنګ، ټولنیز جنسیت، رضاکاري، سوله او امنیت، د نشه یي توکو ضد تګلارې او د ماشومانو د حقونو خوندیتوب ته به د هر اړخیزو مسایلو په توګه پاملرنه کېږي. له برخه والو تمه کېږي چې د خپلو اړوندو ولایتونو د ځوانانو د مرکزونو او د ځوانانو د ریاستونو له لارې به د غونډې پایلې له نورو ځوانانو سره شریکوي.

دغه غونډه به د ځوانانو د ګډ ملي پروګرام په اړه د پوهاوي د کچې د لوړولو او له ځوانانو سره د پروګرام د اغیزمنې مرستې د څرنګوالي په اړه د خبرو اترو لپاره ښه فرصت برابر کړي. د ځوانانو ګډ ملي پروګرام د دولت او ملګرو ملتونو یو ګډ پروګرام دی چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځوانانو د چارو د معینیت تر مشرۍ لاندې د اته وزارتونو او د ملګرو ملتونو د نهه ادارو له خوا په ګډه پلي کېږي.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د ښه نیت سفیر فرهاد دریا به غونډې ته وینا وکړي او د ځوانانو مسایلو ته د ژمنتیا او د ځوانانو د ګډ ملي پروګرام د ملاتړ په موخه به د غونډې په پای کې د افغاني ځوانانو لپاره سندرې ووایي.

---

د دې خبر پاڼې په اړه د لاډیرو معلوماتو لپاره فضه حسیني، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د عامه معلوماتو له مسؤولې سره د fezeh.hosseini@undp.org  له لارې اړیکه ټینګه کړئ.